# ارګ پاڼه

خورلسمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز



**صاحب امتیاز:**
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**د اړیکې شمېره:**
+93 (0) 202100633

**ایمیل:**
info@gmic.gov.af

**آدرس:**
مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک ۱۶، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

## علاقمندی شرکت ملی نفت چین برای سرمایه‌گذاری در افغانستان



مسئولان یک شرکت چینی طی دیدار از کابل می‌گویند که علاقمند سرمایه‌گذاری در افغانستان اند. هن ریومن، رییس شرکت بین‌المللی (CNPCI) کشور چین بقیه ۲

## له کډوالو سره به د ایران ناوړه چلند پر دوه اړخیزو اړیکو ناوړه اغېز ولري



د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت چارسمبالي محترم مولوي امیر خان متقي د ایران له سفیر سره په کتنه کې ویلي؛ په ایران کې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند د دواړو هېوادونو پر اړیکو او پاتې ۵

## ثبات در افغانستان برای پروژه های منطقوی حیاتی است

رییسان جمهور هند و ترکمنستان در یک نشست مشترک در عشق آباد ثبات داخلی افغانستان را برای اجرایی شدن پروژه‌های بزرگ منطقوی همچون تاپی مهم دانسته اند. بقیه ۵

## په مسکو کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت دپلومات ته وسپارل شو

د بهرنیو چارو وزارت اعلان کړی دی چې په مسکو کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت ډیپلوماټ ته وسپارل شو. اسلامي امارت ټینګار کوي چې اوسنی حکومت حق لري پاتې ۵

## اسلامي امارت د کوچنۍ سوداګرۍ پر کارونو مالیه راټیټه کړه

د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي کمیسیون د هېواد اقتصادي وضعیت ته په کتو د وړو سوداګریزو کارونو د مالیاتو کچه له یو اعشاریه پینځه سلنې پاتې ۲

## د اسلامي امارت د کابینې ۳۰مه غونډه دائره شوه

د اسلامي امارت د کابینې ۳۰مه غونډه د رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ دائره شوه. په پیل کې د قران کریم څو مبارک آیتونه تلاوت شول، ورپسې د رئیس الوزراء له ابتدائي خبرو وروسته د اجنډا له مخې پر موضوعاتو بحث پیل شو.
د کابینې غونډې له ګمرکي تعرفو څخه د بشري مرستو د معافیت په اړه د مالیې وزارت غوښتنه تصویب کړه او مرسته ترلاسه کوونکو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې د کومکي کاروانونو له رارسیدو پاتې ۲

## گشایش معدن نفت قشقری از سوی معاون اقتصادی ریاست الوزرا



چاه‌های نفت بلاک قشقری ولایت سرپل از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزرا گشایش یافت.
به گفته محترم ملا برادر روزانه ۲۰۰ تُن نفت از معدن قشقری استخراج خواهد شد و درآمدی که از این رهگذر به دست می‌آید، برای بازسازی و نوسازی بخش‌های گونه‌گون کشور هزینه می‌شود.
معاون اقتصادی ریاست الوزرا می‌افزاید که تلاش‌های امارت اسلامی برای استفاده از معادن کشور جریان دارد. بقیه ۶

## ستایش از ممنوعیت کشت کوکنار در افغانستان



ممنوعیت کشت کوکنار و تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان از سوی امارت اسلامی با واکنش های داخلی و خارجی رو به رو شده است.

سفارت امریکا برای افغانستان، بقیه ۲

## له افغانستان سره د ۲،۴۴ میلیارد ډالرو مرستې ژمنه وشوه



له افغانستان سره د بشري مرستو د راټولولو لپاره د بریتانیې، جرمني او قطر په کوربتوب د ملګرو ملتونو یوه غونډه په انلاین بڼه ترسره شوه. په دې غونډه کې ۴۱ هېوادونو او نړیوالو مرستندویه بنسټونو د ۲۰۲۲ کال لپاره له پاتې ۲

## په کابل ښار کې یو سوداګریز معیاري کمپلکس بیاجوړېږي پاتې ۶

## وعده ۲۰۴ میلیون دالر کمک امریکا به افغانستان بقیه ۶

## تاکید شورای پناهجویان دنمارک بر ادامه کمک‌های بشری به افغانستان بقیه ۵

## د اقتصادي مرستیال په مشرۍ اقتصادي کمیسیون غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمیسیون د کانونو او پترولیم وزارت ته د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان او غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان د اکتشاف او استخراج د ترسره کېدو په موخه د قرارداد اجازه ورکړه.
همدارنګه اقتصادي کمېسیون د تولیدي فابریکو او شرکتونو د کاري ستونزو د خنډ او څنډ په موخه اړوندو وزارتونو او ادارو ته جدي سپارښتنه وکړه، څو د یادو فابریکو او شرکتونو ستونزې په وخت او پرته پاتې ۵

## کابل کې د پاسپورټونو د وېش بهیر بیا پیل شو




د پاسپورټ عمومي ریاست په انلاین بڼه د پاسپورټونو د نوم لیکنې له پیله خبر ورکړ.
د دغه ریاست ویاند وایي،چې دغه ریاست به هره ورځ د دوه زره تنو غوښتنلیکونه پاتې ۲

## اتو میاشتو کې یو نیم میلیون برېښنایي تذکرې ووېشل شوې



د احصایې او معلوماتو ملي اداره وایي چې په وروستیو اتو میاشتو کې په ټول هېواد کې یو میلیون او ۵۰۰ زره برېښنایي پېژندپاڼې وېشل شوي دي.
د دغې ادارې ویاند زیاته کړه چې په کابل او پاتې ۲

## فاز نخست کانال قوش تیپه در یک سال تکمیل خواهد شد



معین عملیاتی و تولیدی شرکت انکشاف‌ملی می‌گوید که فاز نخست کانال قوش‌تیپه در یک سال تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.
ریاض‌الدین شریفی، می‌افزاید که این فاز از دریای آمو شروع می شود و تا بقیه ۵

## اعتراض باشنده‌گان کابل در واکنش به وضعیت مهاجرین افغان در ایران

عدهٔ کثیری از شهروندان کشور در واکنش به ادعاهای آزار و اذیت مهاجرین افغان در ایران، در برابر سفارت آن کشور در کابل دست به اعتراض زدند. معترضان از جمهوری اسلامی ایران خواستار توقف اخراج اجباری بقیه ۲

**اقتصادي کمیسیون امنیتي ارګانونو ته دنده وسپارله، څو له دولتي ادارو او زورواکانو څخه د «افغانستان برېښنا شرکت» د مقروضیتونو په راټولولو کې له برېښنا شرکت سره جدي همکاري وکړي.**

وزارت خارجه چین: **امریکا عامل اصلی کشت و فروش مواد مخدر در افغانستان بود.**



## د ریښتني پرمختګ په لور ګام

د اشغال په تېرو ۲۰ کلونو کې نړیوالو په میلیاردونو ډالر له افغانستان سره مرسته وکړه ترڅو د دوی په قول دا هېواد آباد او اقتصادي ځان بسایني ته ورسیږي، خو په همدې ټوله موده کې په بیلابیلو سکټورونو کې بنسټیز کارونه ترسره نشول؛ افغانستان نه یوازې آباد نشو او اقتصادي ځان بسایني ته ونه رسید بلکې کومې پیسې چې د مرستې په نامه په تېرو شلو کلونو کې افغانستان ته ځانګړې شوې وې، ډېری یې د قراردادیانو جیبونو ته ولوېدې او د تېرو نظامونو د چارواکو له خوا اختلاس شوې. له بده مرغه، په تېرو دوو لسیزو کې د تېرو نظامونو چارواکو یو زرین فرصت له لاس ورکړ او هغه مرستې چې د نړیوالو له خوا له افغانستان سره وشوې په سین لاهو کړې.

د اسلامي امارت لید لوری دا دی چې هېواد په اساسي توګه بیا ورغول شي او ځان بسایني ته په ریښتني توګه ورسیږي. دغه لید لوري ته په کتو سره په تېرو اتو میاشتو کې بیلابیلو سکټورونو مسئولینو هڅه پیل کړې ترڅو د نظام لید لوری له کاغذ څخه عمل ته واړوي.

چې الحمدلله له نیکه مرغه، د اسلامي امارت په حاکمیت سره، په ټول هېواد کې د هر ډول فساد ټغر ټول شو، عایداتي سرچینې په اساسي توګه فعالې شوې او هغه پیسې چې پخوا به د تېرو نظامونو د چارواکو جیبونو ته لویدې اوس په شفافه او منظمه توګه سیستم ته داخلیږي.

سربېره پردې، په ټول هېواد کې داېمن امنیت ټینګ شو چې په دې کار سره ګڼ شمېر پانګوالو او د سیمې هېوادونو په افغانستان کې پانګونې ته لیوالتیا ښودله.

د دې ترڅنګ، په دې وروستیو کې د یو لړ مهمو ملي او سیمه ییزو پروژو د تطبیق چارې چې له کلونو راهیسې د تیرې ادارې د زور واکانو د خپل منځي اختلافاتو له امله په یو مبهم حالت کې قرار درلود پیل شوې. د بېلګې په توګه، د قوش تیپې کانال د رغنیزو چارو پیل، چې په بشپړېدو سره به یې درې میلیونه کرنیزه ځمکه خړوبه او هېواد به د غلې د تولید په برخه کې تر ډېره ځان بسایني ته ورسیږي. د قشقري نفت د پروژې پرانیسته چې په دې سره به هره ورځ ۲۰۰ ټنه نفت استخراج او له ۱۰۰ تر ۱۵۰ زره ډالرو پورې عاید ترلاسه شي. همداراز، د ټاپي پروژې د تطبیق تابیاوې، چې په تطبیق او بشپړېدو سره به افغانستان د کافي اندازه ګازو د اخیستلو سربېره، هر کال تر ۴۰۰ میلیونه ډالر عواید ترلاسه کړي. همدارنګه، په نظامي سکتور کې د یوه پیاوړي، سمبال او مسلکي اردو د درلودلو لپاره، چارې په چټکۍ سره روانې دي او په دې برخه کې ۹۰ سلنه پرمختګ ترسره شوی. همدارنګ، د کرنیزو، استوګنې، کانونو، ترانزیټ، صادراتو، وارداتو او نورو مهمو برخو کې، چې پایله یې د ملت هوساینه او د هېواد پرمختګ ده، ډېر ژر به یې په اړه اساسي ګامونه پورته شي.

د نیک مرغۍ ځای ده چې افغانستان پس له دریو لسیزو د داسې یو نظام شاهد دی چې مشران او کشران یې دین او هېواد ته ژمن دي او په ریښتني توګه هڅه کوي چې افغانستان د سیالانو سره سیال او په هر ډګر کې پرمختګ وکړي. #

## ستایش از ممنوعیت کشت کوکنار...

سازمان همکاری های کشورهای اسلامی، ایران، چین و .... ممنوعیت کشت کوکنار را در افغانستان ستوده اند.

ایران نیز از این کار امارت اسلامی ستایش کرده است.

در همین حال سازمان همکاری های کشورهای اسلامی می گوید که پس از این تصمیم، جهان کمک های بشری را به افغانستان بیشتر بسازد.

چین اقدام امارت اسلامی بر ممنوعیت استفاده از مواد مخدر، کشت و فروش تریاک در افغانستان را می‌ستاید. وزارت خارجه چین می‌گوید که این کشور آماده است تا در مبارزه با مواد مخدر کشورهای منطقه به ویژه افغانستان را همکاری کند.

وزارت خارجه چین با انتقاد از کارکرد های ایالات متحده در بیست سال پسین در افغانستان افزوده است که امریکا عامل اصلی کشت و فروش مواد مخدر در افغانستان بود.

از سوی هم امارت اسلامی می‌گوید که می کوشند تا شغل های مناسب را همچون بدیل برای کشاورزان فراهم بسازند.

این اظهارات در حالی ابراز می‌شوند که اخیراً رهبر امارت اسلامی در فرمانی کشت کوکنار و هرگونه مواد نشه آور را در سراسر افغانستان ممنوع اعلام کرد. #

**با استخراج نفت از چاه‌های قشقری، ا.ا. روزانه تا ۱۵۰ هزار دالر بدست خواهد آورد.**

## اتو میاشتو کې یونیم میلیون برېښنایي...

ولایتونو کې د برېښنایي تذکرو د وېش ۷۳ مرکزونه فعال دي او د ورځې زر تنه د تذکرو د اخیستو لپاره دغو مرکزونو ته مراجعه کوي.

شمېر هېوادوال د برېښنایي تذکرې د اخیستو په بهیر کې د آسانتیاوو رامنځته کېدو ته خوشبین دي. دوی وایي، چې اوس مهال هره ورځ د برېښنایي تذکرو د وېش ټول مرکزونه د خلکو پر مخ پرانیستي وي. #

## اسلامي امارت د کوچنۍ سوداګرۍ پر کارونو...

څخه صفر اعشاریه پینځه سلنې ته راټیټه کړې ده.

د افغانستان د اسلامی امارت اقتصادي کمیسیون زیاته کړې؛ دغه طرحه اوس د پلي کېدو وړ ده او وروسته به یې د پایلو پر بنسټ پرېکړه وشي.

د اقتصادي کمیسیون د پرېکړې پر بنسټ ټولو هغو ادارو ته، چې د سوداګرو چارې ورسره تړلې دي؛ په ځانګړې توګه مالیې وزارت ته دنده سپارل شوې، چې د هېواد ملي سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو ته داسې ممکنه آسانتیاوې برابرې کړي، چې ملي سوداګر او صنعتکاران وکولی شي د هېواد په ښیرازۍ، ځانبسیاینې او د اقتصادي مختګ په پیاوړتیا کې رغنده رول ولوبوي.

مالیې وزارت د همدې پرېکړې پر بنسټ لاس پکار شوی؛ د متشبثینو، سوداګرو، صنعتکارانو، پانګوالو دوکاندارانو او کسبګرو له استازیو سره د ناستې په پایله کې د هغوی د ستونزو له اورېدو وروسته د افغانستان اسلامی امارت د اقتصاد کمیسیون پرېکړې عملي کړي.

د خصوصي سکتور غړي د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد کمیسیون له دې پرېکړې هم هر کلی کوي او وایي، چې د مالیاتو راکموول کولی شي په هېواد کې د کوچنیو سوداګریزو چارو د زیاتوالي زمینه برابره کړي.

د کسبګرو او دوکاندارنواستازیو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له دې پرېکړې هرکلی کړی دی.

د اقتصادي چارو کار پوهان پدې باور دي؛ که د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو صنایعو اوتولیداتو لپاره داسې آسانتیاوې رامنځته کړي، په هېواد کې به د پانګونې بهیر پراخ او د بېکارۍ کچه راټیټه شي. #

## د اسلامي امارت د کابینې ۳۰مه...

دوه ورځې وړاندې د مالیې وزارت په جریان کې واچوي، تر څو له معافیت څخه برخمن او په ګمرکونو کې د مرستندویه کاروانونو له ځنډ څخه مخنیوی وشي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، چې په تجارتي بندرونو کې د زراعتي او حیواني صحت د لابراتوارونو د فعالیدو په موخه، اړونده برخه کې د تشکیل د زیاتولو او تعمیراتي چارو د بشپړولو په اړه جدي اقدامات وکړي.

د کابینې غونډې د هیواد په نړیوالو هوایي ډګرونو کې د (VIP) صالونونو څخه د استفادې طرز العمل د بیا کتنې او نهایي کولو او هوایي ډګرونو کې د بیلابیلو چارو او ستونزو د دقیقې بررسي لپاره لوړ رتبه هیئت تعین کړ، تر څو په دې برخه کې کامل نظم رعایت شي.

په غونډه کې په نورو موضوعاتو هم بحث او پریکړې وشوې او غونډه په دعاء سره پای ته ورسیده. #

## علاقمندی شرکت ملی نفت چین برای...

در دیدار با محترم مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رییس‌الوزرا گفته است که این شرکت می‌خواهد در افغانستان سرمایه‌گذاری کند.

در این دیدار، محترم مولوی عبدالسلام حنفی با استقبال از علاقمندی این شرکت گفته است که اکنون با تأمین امنیت، زمینهٔ سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی در افغانستان فراهم شده است.

محترم مولوی حنفی ابراز داشته است که امارت اسلامی در بخش تأمین امنیت و تسهیل روند سرمایه‌گذاری با تاجران و سرمایه‌گذاران خارجی به گونهٔ همه‌جانبه همکاری می کند.

شرکت بین‌المللی CNPCI یک شرکت نفت و گاز دولتی چین است که به عنوان بزرگ‌ترین شرکت در حوزه انرژی چین فعالیت می کند.

این درحالی است که چین چندی پیش میزبان نشست وزیران خارجه کشورهای همسایه افغانستان درمورد این کشور بود.

امیرخان متقی وزیر خارجه امارت اسلامی ضمن شرکت در نشست وزرای خارجه همسایه‌های افغانستان از شرکت‌های بین‌المللی خواهان سرمایه‌گذاری در این کشور شده بود. #

شرکت انکشاف ملی: **هدف از ساخت کانال قوش تیپه زمینه سازی برای آب یاری ۵۸۰ هزار هکتار زمین زراعتی است.**

## له افغانستان سره د ۲,۴۴ میلیارد ډالرو...

افغانستان سره د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو د غوښتل شویو ۴,۴ میلیارد ډالرو یوازې د ۲,۴۴ میلیارد ډالرو د ورکړې ژمنه وکړه.

له افغانستان سره د ژمنه شویو ۲,۴ میلیارد ډالرو، امریکا د ۲۰۴ میلیونه ډالرو، جرمني د ۲۲۱ میلیونه ډالرو، اروپایي ټولنې د ۱۲۸ میلیونه ډالرو او قطر د ۲۵ میلیونه ډالرو د مرستې ژمنه کړې ده.

د سویلي اسیا لپاره د نړیوال بانک استازي مرستیال هارتویګ شافر وایي: افغانان یو اغېزناک اقتصاد ته اړتیا لري. موږ باید په دې برخه کې په ګډه کار وکړو. اسیایي بانک د ملګرو ملتونو له استازیو سره په مستقیم او یا هم غیر مستقم ډول د اقتصاد د بیا رغولو او بشري مرستو په برخو کې کار کوي. افغانستان بشري مرستو ته اړتیا لري او نړۍ ته پکار ده چې له دې هېواد سره مرستې وکړي.

له دې سره سم د اروپایي ټولنې کمېسیون په افغانستان کې له اړمنو او په ایران او پاکستان کې له افغان کډوالو سره د مرستو لپاره د ۱۱۳ میلیونه یورو له ځانګړي کیدو خبر ورکړی دی.

د اسلامي امارت د ویاند مرستیال بلال کریمي په دې اړه وایي: د تطبیق کوم پروسیجر او جزئیات چې دي هغه به وکتل شي، خو ټولې هغه کړنې چې په داخل د هېواد کې تر سره کیږي، اسلامي امارت تر نظر لاندې وي. #

## کابل کې د پاسپورټونو د وېش...

ومني او له روژې میاشتې وروسته به دا شمېر درې زره تنو ته زیات شي.

د پاسپورټ د عمومي ریاست ویاند شفیع الله تسل وایي: دغه فعالیتونه په انلاین بڼه پیل شوي دي، له دې وروسته ټول هېوادوال کولای شي د پاسپورټ داخیستو لپاره په انلاین بڼه نوم لیکنه وکړي او له ټولو هېوادوالو غوښتل کیږي چې له قلمي پاسپورټونو سره ریاست ته مراجعه ونه کړي.

د پاسپورت عمومي ریاست په وینا په پام کې ده چې په ولایتونو کې د پاسپورټونو د وېش بهیر له روژې میاشتې وروسته پیل شي. #

**د هېواد په کچه کسبګر او دوکانداران د اسلامي امارت له دې پرېکړې چې کوچنیو سوداګرو پر کارونو مالیه راټیټه کړې، هرکلی کوي.**

## اعتراض باشنده‌گان کابل در واکنش به...

مهاجرین افغان از آن کشور نیز شدند.

آنان در اعلامیه‌یی از شورای حقوق بشر سازمان ملل متحد می‌خواهند که ویدیوهای پخش شده در باره شکنجه و قتل پناهجویان افغان در ایران را بررسی کند.

آنان ویدیوهای پخش شده را که ظاهرا از آزار و اذیت برخی از مهاجرین افغان در ایران حکایت می کنند پذیرفتنی نمی‌دانند.

ریحان جرات، یکی از اعتراض کننده گان می گوید: خاموشی و به فراموشی سپردن سازمان ملل متحد و حقوق بشر در رابطه به ظلم و ستم بالای مهاجرین افغانستان در ایران تعجب‌آور است. چرا باید افغان ها درد بکشند؟

از سویی هم، "ایران و ایرانیان به تحقیر و توهین نه بگویید!" شعار معترضان دیگریست که به ویدیوهای منتشر شده در رابطه به آزار و اذیت مهاجرین افغان در رسانه‌های اجتماعی واکنش نشان می‌دهند.

نشر ویدیوها از آزار و اذیت مهاجرین افغان مقیم ایران در رسانه‌های اجتماعی باعث ایجاد نگرانی‌ها و نارضایتی گسترده در بین مردم گردیده است.

اما سفارت ایران در کابل می‌گوید که نشر اینگونه ویدیوها کار کسانی است که به گونه سیستماتیک دنبال تیره ساختن روابط بین مردمان دو کشور استند. #

د احصایې او معلوماتو ملي اداره: **د برېښنایي تذکرو د وېش ۷۳ مرکزونه فعال دي او د ورځې زر تنه د تذکرو د اخیستو لپاره دغو مرکزونو ته مراجعه کوي.**

کابينې غونډه: **له گمرکي تعرفو څخه د بشري مرستو د معافيت په اړه د ماليې وزارت غوښتنه تصويب کړه او مرسته ترلاسه کوونکو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې د کومکي کاروانونو له رارسيدو دوه ورځې وړاندې د ماليې وزارت په جريان کې واچوي، تر څو له معافيت څخه برخمن او په گمرکونو کې د مرستندويه کاروانونو له ځنډ څخه مخنيوی وشي.**

## د اقتصادي مرستيال په مشرۍ اقتصادي کميسيون...

له کوم ځنډ حل کړي.
اقتصادي کمېسيون همدارنگه په کور دننه د مالگې د توليد په برخه کې شته ستونزو او د خلکو اړتيا ته په کتو، د کانونو او پټروليم وزارت ته لارښوونه وکړه، څو د مالگې کانونه د مالگې د توليد او تصفيې په موخه کورنيو شرکتونو ته په قرارداد ورکړي.
همدارنگه، اقتصادي کميسيون يوه ځانگړې کميټې ته دنده وسپارله ترڅو د اقتصادي زونونو د جوړولو، په ټول هېواد کې د ترانسپورټي تم ځايونو او د ترانسپورټي ترمينلونو د مديريت طرحې چې د صنعت او تجارت وزارت له خوا وړاندې شوې، تر غور او تدقيق لاندې ونيسي او خپل راپور دې راتلونکي غونډې ته وړاندې کړي.
په همدې ترتيب، د احصايې او معلوماتو ادارې اړوند د «۶۰» جنراتورونو د اخيستلو موضوع د «۱۴۰۱» مالي کال د بوديجې تر تصويب پورې وځنډېده. اقتصادي کمېسيون د ماليې وزارت هغه وړانديز چې د هيوادوالو اقتصادي وضعيت ته په کتو او د اصنافو د ملاتړ په موخه د يو کال لپاره د اصنافو ماليه له (۱.۵) څخه (۰.۵) سلنې ته راکمېږي؛ د تطبيق وړ وباله او وپټېيل شوه، چې له هغه وروسته به د پايلو پر اساس تصميم نيول کيږي.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال امنيتي ارگانونو ته دنده وسپارله، څو له دولتي ادارو او زورواکانو څخه د «افغانستان برښنا شرکت» د مقروضيتونو په راټولولو کې له برښنا شرکت سره جدي همکاري وکړي.
اقتصادي کمېسيون همدارنگه «د افغانستان بانک» او دولتي شرکتونو استازو ته دنده وسپارله، څو په گډه پر دولتي شرکتونو باندې د بانکي محدوديتونو د کمولو په اړه يو منظم ميکانيزم جوړ کړي.
اقتصادي کمېسيون د کابينې له ۲۸مې مصوبې سره سم ټولو وزارتونو ته دنده وسپارله، څو هر وزارت د خپلو اقتصادي او پرمختيايي پروژو طرحې ترتيب او د منظورۍ په موخه يې د مشرتابه مقام ته وړاندې کړي. #

**د پاسپورټ عمومي رياست، هره ورځ د دوه زره تنو غوښتنليکونه مني او له روژې وروسته به دا شمېر درې زره تنو ته زيات شي.**

## له کډوالو سره به د ايران ناوړه چلند پر دوه...



د خلکو پر احساساتو ناوړه اغېز کوي.
د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د وياند عبدالقهار بلخي د څرگندونو له مخې: مولوي متقي د ايران سفير ته ويلي؛ د ايران مشرتابه ته بايد پيغام ورکړ شي، چې خپلو اړوند امنيتي چارواکو ته لارښوونه وکړي او په ځانگړي توگه سرحدي سيمو کې له افغان کډوالو سره د ناوړه چلند مخه ونيسي.
د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت وياند عبدالقهار بلخي ويلي؛ په کابل کې د ايران سفير بهادر امينيان د دغو اندېښنو په ځواب کې ويلي، چې په ايران کې د امام علي رضا په زيارت کې د چړې له بريد وروسته يو شمېر اشخاصو د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرکې او نفاق د رامنځته کولو لپاره تبليغاتي کمپاين پيل کړ.
د ايران سفير ويلي، چې افغان کډوال په ايران کې "ميلمانه" دي او په تېرو ۴۳ کلونو کې د کډوالو چلند د ايران له خلکو سره د دوی مينه او له ملگرتيا ډکې اړيکې ښيي.
هغه دا هم ويلي، چې حکومت يې له افغان کډوالو سره د ناوړه چلند اراده نلري؛ خو تل د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور رامنځته کولو هڅه کوي.
څو ورځې مخکې په ايران کې د افغان کډوالو د ځورولو، وهلو او ناوړه کړنو له ترسره کېدو راپورونه ورکړ شوي دي. #

**فاز نخست کانال قوش تيپه ۴۶ کيلومتر است که هزينه آن از سوی امارت اسلامی پرداخته خواهد شد.**

## تاکيد شورای پناهجويان دنمارک بر ادامه کمک‌های...

مسئول شورای پناهجويان دنمارک بر ادامه کمک های بشری به افغانستان و نيز پشتيبانی از بيجاشده‌گان داخلی در افغانستان تاکيد می روزد. وی هرچند اين کمک ها را برای نيازمندان در افغانستان بسنده نمی‌داند اما می‌گويد که مردم افغانستان در اوضاع کنونی به اين کمک ها نياز دارند.
شارلت سلنتی، رييس عمومی شورای پناهجويان دنمارک، می گويد: ما به مردم زيادی که در روستا ها زنده گی ميکنند و بيجا شده گان داخلی استند رسيده گی کرده ايم.
شارلت سلنتی، می گويد: هرچند در اين اواخر کنفرانس های داير شد که به افغانستان کمک های زيادی صورت گيرد، اما ما می بينيم که اين کمک ها تمامی نيازمندی های مردم افغانستان را مرفوع نه کرده اند؛ اين کمک ها بسنده نبوده اند؛ از سوی ديگر اقتصاد افغانستان بايد سرپا شود و ما بايد برای احيای دوباره اقتصاد اين کشور کار کنيم.
هرچند رييس عمومی شورای پناجويان دنمارک از ادامه کمک های بشری به افغانستان سخن می زند، اما مزمل شينواری يک تن از کارشناسان مسايل اقتصادی می گويد که کمک های خارجی نمی توانند ريشه فقر را در کشور از بين ببرند.
با اين هم، هرچند کمک های بشری زيادی به افغانستان انجام شده اند و روند کمک های بشری به اين کشور ادامه دارد، اما اين کمک ها گره گشايی مشکلات کليدی در افغانستان از جمله فقر و بيکاری نبوده اند. #

## فاز نخست کانال قوش تيپه در يک سال...



ولسوالی دولت آباد ولايت بلخ ادامه می‌يابد.
فاز نخست کانال قوش تيپه ۴۶ کيلومتر است که هزينه آن از سوی امارت اسلامی پرداخته خواهد شد.
معين عملياتی و توليدی شرکت انکشاف ملی، می گويد: با گذشت زمان کار اين پروژه از نقاط مختلف و از بخش‌های زياد شروع می‌شود و هدف از ساخت کانال قوش‌تيپه زمينه سازی برای آب ياری ۵۸۰ هزار هکتار زمين زراعتی است.
محمد، باشنده بلخ، می‌گويد: به ميليون‌ها نفر اينجا صاحب زمين می‌شوند؛ زمين‌های شان آبياری می‌شوند؛ آب که بود همه چيز است.
در همين حال وحيدالله افغان زوی، يکی ديگر از باشنده‌گان بلخ، می گويد: مدت زيادی بود که مردم انتظار کار ساخت اين کانال را می کشيدند که اکنون تحقق يافته‌است.
در اين ميان، محترم ذبيح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی می‌گويد که با ساخت کانال قوش‌تيپه، حاصلات زراعتی از جمله گندم در شمال‌کشور افزايش خواهند يافت و نيز از ضايعات آب جلوگيری خواهد شد.
کانال قوش تيپه ۲۸۵ کيلومتر طول دارد که از ولسوالی کلدار ولايت بلخ شروع و با عبور از دشت‌های حيرتان، ولسوالی آقچه جوزجان به ولسوالی اندخوی فارياب می‌رسد با ساخت و بهره برداری اين کانال نزديک به سه ميليون جريب زمين زير کشت خواهند رفت. #

## په مسکو کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت...

چې له هېواده بهر د افغانستان د سياسي استازوليو مديريت په غاړه واخلي او په مسئولانه توگه له نړۍ سره تعامل ولري.
د اسلامي امارت د وياند مرستيال محترم انعام الله سمنگانی وايي: په مسکو کې د افغانستان د اوسني حکومت ډيپلوماټ خپله اعتبار پاڼه ترلاسه کړه. موږ د دغه کار له امله له روسيې مننه کوو او هيله لرو چې په راتلوونکي کې په روسيه کې هېوادوالو ته ښې کونسلي خدمتونه برابر شي.
اسلامي امارت وايي، چې تر اوسه د سرپرست حکومت ډيپلوماټانو په چين، ايران، پاکستان، قزافستان او يو شمېر عربي او افريقايي هېوادونو کې خپل کارو پيل کړي دي. #
در ديدار با محترم مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری رييس‌الوزرا گفته است که اين شرکت می‌خواهد در افغانستان سرمايه‌گذاری کند.
در اين ديدار، محترم مولوی عبدالسلام حنفی با استقبال از علاقمندی اين شرکت گفته است که اکنون با تأمين امنيت، زمينۀ سرمايه‌گذاری‌های داخلی و خارجی در افغانستان فراهم شده است.
محترم مولوی حنفی ابراز داشته است که امارت اسلامی در بخش تأمين امنيت و تسهيل روند سرمايه‌گذاری با تاجران و سرمايه‌گذاران خارجی به گونۀ همه‌جانبه همکاری می کند.
شرکت بين‌المللی CNPCI يک شرکت نفت و گاز دولتی چين است که به عنوان بزرگ‌ترين شرکت در حوزه انرژی چين فعاليت می کند.
اين درحالی است که چين چندی پيش ميزبان نشست وزيران خارجه کشورهای همسايه افغانستان درمورد اين کشور بود.
اميرخان متقی وزير خارجه امارت اسلامی ضمن شرکت در نشست وزرای خارجه همسايه‌های افغانستان از شرکت‌های بين‌المللی خواهان سرمايه‌گذاری در اين کشور شده بود. #

**اقتصادي کميسيون د کابينې له ۲۸مې مصوبې سره سم ټولو وزارتونو ته دنده وسپارله، څو هر وزارت د خپلو اقتصادي او پرمختيايي پروژو طرحې ترتيب او د منظورۍ په موخه يې د مشرتابه مقام ته وړاندې کړي.**

کابينې غونډه: **د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت ته دنده سپارل شوې، چې په تجارتي بندرونو کې د زراعتي او حيواني صحت د لابراتوارونو د فعاليدو په موخه، اړونده برخه کې د تشکيل د زياتولو او تعميراتي چارو د بشپړولو په اړه جدي اقدام وکړي.**

## ثبات در افغانستان برای پروژهای منطقوی...

رييس جمهور هند که در يک سفر رسمی به ترکمنستان رفته است با همتای ترکمنی‌اش بر اهميت همکاری در بخش انرژی تاکيد کرده اند.
در هيمن حال، وزارت خارجه هند با پخش بيانيه‌ی می‌گويد که ثبات و ايجاد امنيت داخلی يکی از مهم‌ترين بخش‌ها برای آغاز کار عملی پروژه‌های بزرگ هم چون تاپی در افغانستان است.
شبير بشيری، آگاه اقتصادی در اين باره می گويد: داشتن ثبات داخلی افغانستان و ثبات منطقه‌ای و روابط نيک شرکای دخيل در پروژه تاپی مهم هستند و اين عامل عمده و استراتژيک بوده می‌تواند که پروژه تاپی را به مرحله تطبيق برساند.
وزارت معادن و پتروليم می‌گويد که کار اجرايی پروژه تاپی در آينده نزديک آغاز خواهد شد.
بلال کريمی، معاون سخنگوی امارت اسلامی می گويد: کارهای اوليه‌اش تکميل شده است و موضوع امنيتی‌اش مطمين‌تر شده است و مقام‌های ترکمنستان نيز در اين مورد اطمينان دادند که موضوعات امنيتی و همچنين در بخش تمويل پروژه مشکلات حل است.
مرحله نخست پروژه تاپی از تورغندی-هرات تا ولسوالی گذره اين ولايت ادامه می‌يابد و قرار است که در نخست کار استملاک زمين اين مسير آغاز شود. #

وزارت معادن و پتروليم: **کار عملی پروژه تاپی در آينده نزديک آغاز ميشود.**

ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکي شمېره:** 202100633 (0) 93+
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

## په کابل ښار کې یو سوداګریز معیاري کمپلکس بیاجوړېږي



ټاکل شوې په کابل ښار کې د خیرخواه کمپلکس چې څلور کاله وړاندې سوځېدلی و، د نږدې ۳۳ میلیون ډالرو په لګښت د عامه او خصوصي مشارکت د موډل پر بنسټ جوړ شي.

د خیرخواه مارکېټ مسئول وایي، دا مارکېټ به تر دېرشو کلونو پورې په خصوصي سکټور او تر هغې وروسته به یې ټول عواید په حکومت پورې اړوند وي.


د خیرخوا کمپلکس مسئول مختار شریفي وایي: دېرش کاله زموږ اړوند دی او له دې وروسته، یې ټول عواید حکومت پورې اړه لري، خو د دې دېرشو کلونو په لړ کې هم دېرش سلنه عاید دولت ته ورکول کېږي.

د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونې غړی خانجان الکوزی وایي: پانګه‌وال دې کارخونې جوړې کړي او تولیدات دې ولري او چوپړتیاوې دې وړاندې کړي او خلک دې هم باید له کورنیو تولیداتو ګټه وکړي.

بل خوا کابل ښاروالي وایي، چې دوی په کابل کې بیلابیلې اقتصادي پروژې په پام کې لري او هڅه کوي چې پانګونې او پانګوالو ته اړین فرصتونه برابر کړي.

د دې مارکېټ تر زرو ډېرې هټۍ او الکټرونکي وسایل د ۱۳۹۷ کال په لړم میاشت کې وسوځېدل چې هټیوالو ته یې میلیونونه ډالره زیان واړوه. #

## آغاز دوباره فعالیت اطاق تجارت و صنایع زنان در هرات



اطاق تجارت و صنایع زنان در هرات، فعالیت‌اش را از سر گرفته است. مسوولان این اطاق می گویند که برای رشد کاروبار زنان و فراهم ساختن سهولت به آنان تلاش می‌ورزند. آنان می‌افزایند که در هفته‌های پسین فعالیت‌های تجارتی زنان یک بار دیگر رونق یافته است.

بهناز سلجوقی، مدیر اطاق تجارت و صنایع زنان در حوزه غرب می گوید: این که دروازه اطاق صنایع و تجارت باز شده و فعالیت‌های جریان دارد، خانم‌های دیگر هم انگیزه گرفته و دوباره فعالیت تجارتی خود را آغاز کرده اند.

مقام‌های محلی هرات می‌گویند که برای توسعه کاروبار زنان تجارت پیشه در این ولایت همه سهولت‌ها را فراهم می سازند. آنان اطمینان می دهند که هیچ گونه محدودیتی فراراه فعالیت‌های تجارتی زنان در حوزه غرب وجود ندارد.

بر بنیاد آمارهای اطاق تجارت و صنایع زنان در هرات، بیش از یک هزار و پنجصد زن و دختر در این ولایت مصروف کارهای تجارتی استند. #

## گشایش معدن نفت قشقری از سوی معاون اقتصادی...



به گفته وزارت معادن و پترولیمر، بلاک قشقری ده چاه نفت دارد و میزان استخراج نفت از آن روزانه تا دوصد تُن خواهد رسید. در حال حاضر ۹ چاه نفت در اینجا فعال استند.

قرار است با استخراج نفت از چاه‌های قشقری، امارت اسلامی روزانه تا یکصدوپنجاه هزار دالر بدست بیاورد.

از سویی هم، شماری از آگاهان مسایل اقتصادی می‌گویند که استفاده از حوزه‌های نفتی کشور بر اقتصاد و خودکفایی کشور نقش مهم دارد.

حمیدالله یلانی، آگاه مسایل اقتصادی می گوید: بدون شک افتتاح همچون پروژه‌ها که روزانه بین ۱۰۰ تا ۱۵۰ هزار دالر بتواند به اقتصاد افغانستان کمک بکند و همچنان روزانه ۲۰۰ تُن و یا بالاتر از آن مواد نفتی را تولید کند، امیدواری بسیار بزرگ برای مردم افغانستان خلق خواهد کرد. #

## وعده ۲۰۴ میلیون دالر کمک امریکا به افغانستان

وزارت خارجه امریکا گفته است که این کشور ۲۰۴ میلیون دالر برای مردم افغانستان کمک می‌کند. این کمک در نشستی که به منظور جلب کمک های بشری به افغانستان برگزار شده بود، اعلام شد.

وزارت خارجه امریکا با پخش اعلامیه یی تاکید کرده است که امریکا به ادامه کمک به مردم افغانستان متعهد است.

در اعلامیه آمده است که تمامی کمک‌های مالی امریکا به افغانستان از ماه آگست سال گذشته تاکنون به ۷۲۰ میلیون دالر می‌رسد. #

**د اقتصادي کمیسیون د پرېکړې پر بنسټ ټولو هغو ادارو ته، چې د سوداګرو چارې ورسره تړلې دي؛ په خانګړې توګه مالیې وزارت ته دنده سپارل شوې، چې د هېواد ملي سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو ته داسې ممکنه آسانتیاوې برابرې کړي، چې ملي سوداګر او صنعتکاران وکولی شي د هېواد په ښېرازۍ، ځانبسیاینې او د اقتصادي مختګ په پیاوړتیا کې رغنده رول ولوبوي.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی: **امارت اسلامی در بخش تأمین امنیت و تسهیل روند سرمایه‌گذاری با تاجران و سرمایه‌گذاران خارجی به گونهٔ همه‌جانبه همکاری می‌کند.**



**د تورې اتلان مو د قلم اتلان هم دي لکه څرنګ چې يې په خپل غيرت، همت او جهادي تورې سره هيواد ته له اشغال څخه نجات ورکړ همدارنګ یې اوس د قلم په مټ بيا رغوني ته متې را بډ وهلې دي تر څو یو پياوړی پر مخ تللی، له سيالانو سره سيال او مترقي هيواد ولرو.**


محترم قاري محمد يوسف احمدي، د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

د احصایې او معلوماتو ملي اداره: **په تېرو ۸ میاشتو کې یو نیم میلیون برېښنایي تذکرې وېشل شوي دي.**

**اقتصادي کمېسیون د تولیدي فابریکو او شرکتونو د کاري ستونزو د څنګ او ځنګ په موخه اړوندو وزارتونو او ادارو ته جدي سپارښتنه وکړه، څو د یادو فابریکو او شرکتونو ستونزې په وخت او پرته له کوم ځنډ حل کړي.**

اطاق تجارت و صنایع زنان در هرات: **بیش از ۱۵۰۰ زن و دختر در این ولایت مصروف کار های تجارتی استند.**

## د دې ګڼې انځور


شیخ ابونصر فراهی

این مرد فاضل وطن از محیط فراه نشئت نموده از مفاخر کشور ما محسوب می شود. او باتفاق تمام تذکره نویسان کور مادر زاد بود. این دانشمند بزرگ "بدرالدین محمود یا مسعود محمد ابن ابوبکر ابن الحسین ابن الجعفر الفراهی" از مردم شهر فراه "سیستان" است. در عصر یمین الدین بهرام شاه بن تاج الدین امیر سیستان میزیست در لغت عرب و حدیث مهارت تمام داشت.

مولفات شیخ ابونصر فراهی:

مجموعه منظوم "فرهنگ الغاتی" باشد که بعربی و فارسی بوده و بنام نصاب الصبیان مشهور است این کتاب در شرق متداول و مستعمل بوده و تقریباً در تمام کتابخانه های اروپا نسخه های متعدد آن یافت می شود.

### ابونصر فراهی

ابونصر بدر الدین مسعود بن ابی‌بکر فراهی، مشهور به ابونصر فراهی، به نوشته‌ی برخی منابع در سال ٦۰۵ قمری در فراه زاده شد. او شاعر و لغت‌نامه‌نویس بود و کتاب «نصاب الصبیان» مشهور ترین اثر وی به فرمان نظام‌الملک حسن، در زمان بهرام‌شاه، به نظم درآورده شد.

ابونصر فراهی، کور مادرزاد بود و در دربار بهرام‌شاه بن تاج‌الدین حرب، پادشاه سیستان که با پادشاهان غور پیوسته‌گی داشت، می‌زیست و از شاعران چیره‌دست و دانشمندان بزرگ عصر خود بود.

او هم‌چنین کتاب «جامع الصغیر» تألیف محمد بن حسن شیبانی (-۱۳۵ ۱۸۹) را نیز در سال ٦۱۷ به نظم درآورده است.

تاریخ وفات او معلوم نیست، اما در کتاب «چلبی در کشف الظنون» سال وفاتش ٦۴۰ هجری ذکر شده است. آرامگاه این شاعر در روستای رج در ولایت فراه است.